



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قربان دې شم وطنه

د چاپ کال: ۱۴۰۱ هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم : قربان دې شم وطنه
لیکوال : دلاور (عظیمي)
اړیکو شمیره :۰۷۸۷۲۸۸۴۳۴
چاپ زیار: حضرت بلال (نعیمي)
خپرندوی:                .
بریښنالیک:dilawarazimi@gmail.com
ډیزاین: استاد اسدالله (وفا)
چاپ وار: لمړی
چاپ نیټه : ۱۰ / ۱ / ۱۴۰۱
چاپځای : لغمان ولایت د استاد اسدالله (وفا) کمپوز مرکز

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښکلې ډالۍ

د لوی او ښونکي خدای (ج) په نامه سره دا یو ځوکرښې لیکم شعر په وزن لرونکې ژبې سره د مفکورې او تخیل عاطفې ترتیب ته وایې شعر یو هنر دی او شاعري دالله (ج)ورکړه ده شعر الهام او احساس هم دي ځنګه یومصور په خپلوتصویرونوکې د طبیعت او فطرت ښکلاګانې انځوروي دغه شان شاعر هم پخپلو شعرونو اوشاعرانه خیالونو کې د مینې خلوص اوعاطفي لفظونه داحساساتو اوجذباتو په تغزل کې رانغاړې د خپل چاپیریال رنګونه او کردارونه دګلانو اواغزیو په څیرتمثیلوي اوبیرته یې دکاغذ په مخ ټولنې ته وړاندې کوې اوخلک په کې خپله مینه او ارمانونه لټوي نوځکه کوم سړی چې غزل یا نظم اوري نو وایي چې کټ مټ یې زما د زړه خبرې اخیستي دي اوس نو تاسو ګرانو لوستونکوته یو ځوان شاعر ښاغلی دلاور (عظیمي) صاحب دلغمان ولایت اوسیدونکی تاسوته معرفي کوو.

والسلام په درناوی

عبدالطیف ( چهارقلاوال)

۱۴۰۱/۱/۸/تاریخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مننې په نیت څو کرښې

که څه هم مخکې له دې مې کومه نثري ټولکې چاپ شوي نه دې خو باور وکړئ تر ډیره وخته مې دا جراعت نه شو کولی چې زه دې د خپلو شعرونو ټولګه چاپ کړم د شعري ټولګې چاپول راته ډېر ستونزمن پېچومې ښکاریدل او لا هم ښکاري اکثره وخت به مې ملګرو پوښتنه کوله چې شعري ټولګه څنګه شوه ولې یې نه چاپوې؟ خو ما به کله یوه بهانه او کله بله بهانه کوله ډیرو ملګرو راته ډاډ راکوه چې چاپ یې کړه خو بیا مې هم په خپلو شعرونو زړګي اوبه نه څښلې.
یوه ورځ مې خوږ ملګري **حضرت بلال (نعیمي)** زما ترڅنګ را غی او راته یې وویل چې شعري ټولګه به خامخا چاپوې خدای شته چې زه د( نعیمي ) مخې ته نه شوم ورتلی بس دهغه خبره وه او زما منل وو.
بیا نو د هغه دې کور ډیر ډیر ودان وي چې زما خواره واره شعرونه یې له کتابچو راټول کړل اوپه خپله یې راسره ترتیب کړل لکه څنګه چې دعمر په تیرېدو سره تجربې په لاس راځي او عقل پخیږي همداشان څومره چې په شاعر عمر اوړي همغه پیمانه یې شعر دی پخوالي لوړو پوړیو ته رسي نو کیدای شي زما شعرونه به نیمګړتیاوې ولري خو دا شعرونه زما د تنکي ځواني د احساساتو زېږنده ده هیله ده چې کمې کاستۍ یې راوښئ
ما سره هیڅ داسې الفاظ نشته او نه به پیدا شي چې زه له خپل ګران ملګري نعیمي څخه مننه وکړم اوښه ده چې نشته ځکه چې زه دده همداسې پور راوړی ښه یم.
له معلم صاحب عبدالطیف (چهار قلا ولا ) څخه نړئ مننه چې دکتاب په کره کتنه کې یې له ماسره ډیره همکاري وکړه او خپل قیمتي وخت یې ما ته وقف کړه او همدارنګه له ماستر محمد اضغر (عظیمي) څخه هم نړۍ مننه چې زما په دې کتاب یې کره کتنه وکړه او خپل نظر یې راسره شریک که بیا هم ډیره مننه خدای(ج) مو د ژوند په ټولوچارو کې بریالی لره اوعمر موله برکتونو څخه ډک شه.
اوپه تلو تلو کې له تا هم مننه چې کتاب مې لولې او ځان په کې ګورې.

درنښت

دلاور (عظیمي)

دلغمان روښان پوهنتون قضاء او څارنوالې څانګې څخه فارغ التحصل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

هغه چاته چې له مخې يې راته د شعر پرښتې الهام
راوړی اوهغه چاته چې دژوند بلا سختې يې په دې
لاره کې ګاللي او دشعراوادب ټولولاروپانوته.

” عظیمي“

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دشخصي ژوند يو څو کرښې

دلاور "عظيمي" د لغمان ولايت فرهنګي ډګر هغه لاروى ده چې په تنکى ځوانى کې ښتن تعالى پرې دشعر او شاعرى الهام کړى زما ملګرى عظيمي صاحب ديورښتيني خدمتګار لومړي بريدمل محمد اکبر (عظيمي) زوى ده چې شا او خوا درويشت **پسرلى** وړاندې دافغانستان په زړه کې چې کابل د تره خيلو په کلي کې دغمونو دې ډکې اوفاني نړى ته خپلې سترګې پرانستي دي عظيمي خپلې زده کړې په لرې پښتونخوا کې پيل کړي اود مهاجرت ددورې له پاى ته رسيدو وروسته د لغمان ولايت د مهترلمک له عالي ليسې څخه فارغ شوى چې دوه کاله وروسته دکانکور له ازموينې د لغمان ولايت دروښان پوهنتون په دروازه ورننوت اوپه ١۴٠٠ هـ ش کال کې د حقوقو پوهنځي له قضاء اوڅارنوالى څانګې څخه په علمي کدر کې فارغ اوتر څنګ يې درې کاله د روڼتيا څار له اداري سره درضاکار په صفت دمحاکمي په بخش کې عملي کار ترسره کړى رب دې دژوند په ټولوچاروکې بريالى لره.

په درنښت

ستاسو ورور محب الله (شيرزى)

(c) ketabton.com: The Digital Library

قربان د شم وطنه
را ته ښکارې لوړ له ځانه
اوچت لري مقام
له امریکا او پاکستانه
قربان د شم وطنه
په هیچا به د ورنکړم
ځلیږي په میدان
قربان قربان له تانه
شمه ګرانه افغانستانه
قربان د شم وطنه
دوښمن دې شه ملاماتې
اوچت اوسي مدام
زمریان لري په غرو کې
په د شتو او میرو کې
قربان د شم وطنه
زمری په څېرښکاریږي
په هر داسي میدان

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرکيټ وی که فوټبال
که د جنګ وی لوی میدان
*قربان د شم وطنه*
دلاور عظیمي ستایي
نن ورځ ستا دا ټول زمریان
په خارج وی که وطن
ځلوي در ته میدان
قربان د شم وطنه
را ته ښکاري لوړ له ځانه
اوچت لری مقام له امریکا او پاکستانه
قربان د شم وطنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شعر

زار دې شم غني بابا
تل د وي حاجی بابا

تا چی څه ویلي دي
موږ ته دی صحیح بابا

تا چې ترینه خلاص کړلو
دغه ده صحیح بابا

مونږ دربانډی ویاړ کوو
غم مکړه غنی بابا

زور د ور معلوم کړلو
اوس هر څه مني بابا

زار دې شم غني بابا
ته مو یې صحیح بابا

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړ دې کړو نظام زمونږ
داسې حقیقي بابا

ګوره چی یی پری نه دی
هغه پنجابي بابا

وائې عظیمي دغه
بیابه یې ګټي بابا

شعر
بې د جانانه زنده ګي څه کوم
ولا ده ګرانه زنده ګي څه کوم

په ما داور د محبت پوری کړو
بې له ایمانه زنده ګي څه کوم

ژوندون مې تا غواړي او تا یادوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

موری بی له تانه زنده ګی څه کوم

عظیمي وایی خدای دی درکړی جنت
زه بې له تانه خوشحالي څه کوم

شعر

زما د ښکلي ژوند ارمان یې اشنا
ته مې د بر کلي جانان یې اشنا

په نه خبره مروره چې شوې
ولا له ځانه را ته ګران یې اشنا

خیر دي په ګلوبه دی بیا رضا کړم
ته مې زړکی یی ته مې ځان یی اشنا

عظیمي وایی بی له تا زنده ګې
لکه ناروغ چې بې درمان وی اشنا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شعر

یاری د ښکلو سره خوند نه کوي
مینه دسلو سره خوند نه کوي

قسم په خدای چې لیونی یی کړمه
اثر پری هیڅ دناصح پندنه کوي

په دی خبرو باندی نه پوهیږم
کیسی د جنو سره هم نه کوي

ما ته یی بیا لاس په نامه ایښی دی
واعدې د ګلو سره هم نه کوي

عظیمی وایي خدای دی بیا رضأ کړي
دوکئ د ښکولو سره هم نه کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شعر

یو ورځ مې د چا زړه پسې ازار وکه صاحبه
مغرور نه وم چې ما ور ته اضهار وکه صاحبه

بې وخته یې د خیال په اوبو یوړم لیونی وه
ما ځکه ور ته داسی انتظار وکه صاحبه

چې زړه یې را ته راکه ما ویل دا به څه چل ګیږی
نو رب ته په سجده شوم ما یې سوال وکه صاحبه

د چم د جنګیو سره یو ځای وه روانه
چې ما ور ته په لاره کی اقرار وکه صاحبه

د سوال په بدله کی عظیمي ته چې کتلې
په غشود بڼویې یو ګوزار وکه صاحبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شعر

هغه دې ورک شی چی په تا پسې خبرې کوي
چی ستادې خاورې اوحیا پسی خبرې کوي

ته یی زمونږ لکه د مور وطنه
ته مو زړګی یی ته مو کور وطنه

ارمان بی خاورو سره خاوری کړو مونږ
چی ستا رهبر او د عسکر پسی خبری کوی

دغه دری رنګه بیرغ تل به زمونږ زړو کی اوسی
سترګی به یی وباسو چی ده پسی خبری کوی

عظیمي وایی رب ته مو وران وطن را جوړ کړی
زه بې ملنګ ګړم سوک چی ده پسی خبری کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شعر

سلام د زړه نه در ته وایمه وطن ته راشئ
د احمد شاه او میرویس خان ښکلی ګلشن ته راشئ

او همدومره بس د په پریدی وطن کی مه اوسیږئ
د اکبر خان او غنی خان ښکلی ګلشن ته راشئ

عظیمي ټول عمر دیدار ته ستاسې اوسي
دخپل پلار او نیکو ښکلی مدفن ته راشئ

## شعر

له پاکستان سره سیاسی خبری
داسی اوس هیس کومه فیده نلری

یو خوا ته سولحی ته تیار شی ملت
بل خوا ته جوړی دسیسی کړی را ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای د افغان ولس مظلمو بچو
ورپسی پاسی لدی دره یي ورک کړی

دا مو دوښمن ده هیس تریی نه جوړیږی
را ته همیش وژنی بی وزله ځوانان

کله مو کور کله مسجد ورانوی
کله مو خاوره او ملت ورانوی

نور ور ته پاسی په یوه ټغر شئ
ځان نه ملت د یو افغان جوړ کړی

څوک چې دا وایې چې افغان نه منم
بیا ورپسی شی لدی دره یی ورک کړی

له ځانځاني نه لاس په سر شی ورونو
دغه لوی کور دمسلمان جوړ کړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور مو له سولحی نه څه نه جوړیږی
په سولحه ډیر یو غولیدلی مونږه

که د غني او عبدالله فرمان وی
عظیمي وایی افغانستان به ورن شئ
غزل
په محبت باندې د پو کړمه له ځانه ورک شوم
دا خو لا سه کی لدې ټول افغانستانه ورک شوم

د ظالیم لوری در په در خاوری په سر د کړمه
اوس نو له دغه خایست شان ګلستانه ورک شوم

زه لیونی ومه په تا باندی مین چی شومه
اوس د کلی د کودره اوله مابنامه ورک شوم

خیر ده یادونه به دې پریدم نور د نه یادوم
اوس د لدي شینګي لغمانه ورک شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

عظیمي وایی زه به یی تول عمر په طمه یمه
اوس که لدی فانی نړی او له جهانه ورک شوم

## شعر

دا چی تور سور شین بیرغ می پدی تن وینی
موري د ملی اوردو عسکر یمه

سر او مال مې ځار لدی وطنه شه
زه یو جنکیالې د دی وطن یمه

خاوره به یې ساتم په بدل د سر
څو چې یو قطره مې په دې تن کی وې

او زوي د یو زمري یم پدې ویاړ کوم
اوس چې زه ساتونکې د دې در یمه

وایئ عظیمي چې خداي مو تل لره
ویاړم چې یې زه هم یو عسکر یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شعر

ځه شو غزل ځه شوه خانی د جانان
بلا ده ګرانه زندګی د جانان

په داسی ښار کی زندګی کوومه
چی هلته ورانه ابادي ده ګرانه

سوک ترهګر او سوک راهزن جوړیږی
ځه کوم داسی زندګی جانانه

چی د قلم په ځای توپک په لاس کې
دا مو د نسل بربادی ده ګرانه

زمونږ خو کر که لدی ښاره کړله
دوی مو مسجد دوی مو ممبر ورانوی

تر څو به دا ظلم ستم چلیږي
چی مسلمان د بل په سر قتلیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## عظیمي وايي نور يې وس نلرو
## چې مو ځوانان په هر سنګر قتليږي
## شعر

څه شو غزل څه شو رباب څه شو منګي د ديرې
بلا خوارږه خوارږه وختونه او سپرلي د ديرې

او زه يې د دنګ چنار ميلمه بللم
اوس مو مشران نشته ملنګ د ديرې

خوارږه دوستان خوارږه وختونه مو وه
نه راځی هغه مازديګر د ديرې

زه يې د کوم ماښام يادګار تازه کړم
نشته ګودر نشته نختر د ديرې

چې مو له مينی محبت نه هبس وخت نه تيريده
نشته اوس هغه محبت د ديرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

عظیمي وای زه بی ډیر ارمان کړم
ربه تازه کړئ یو ځل بیا دا مازدیګر د دیری

شعر

چی مې د زړه باغ پی ودان وه اوس هغه نشته ده
چی مې د تورو سترګو خان وه اوس هغه نشته ده

او چی مروره شوه رضا به مې کړه
چی دا زړګی مې پي روښان وه اوس هغه نشته ده

زما د هیلوامیدونو ډیوه
ولا دا ځان مې تری قربان وه اوس هغه نشته ده

ارمان یی ډیر راځی خو هیڅ ویلی نشم
چې مې دزړه درنځ درمان واه اوس هغه نشته ده

چی ډیر ستومان وم نو تر سنګ بي راغلم
را ته غوټی د ګلستان وه اوس هغه نشته ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

عظیمي وای ربه دومره زر تنها د تری کړم
هغې مور کئ باندی چی ګران وم اوس هغه نشته ده

## غزل

ځه قاضي عاجل به را ته نه لیکی
سوری د اوربل به را ته نه لیکی

زه چی کله چا باندی مین شومه
اوس هغه منزل به را ته نه لیکی

زه لیونی تا غوارمه تا پسې
نه ښایی غزل به را ته نه لیکی

زه خویې په مینه کې صادق ومه
ګوره چل اوول به ما ته نه لیکئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه لکه ملنګ ګچکول په لاس ګرزم
څه عظيمي زلفې يې ولول به را ته نه ليکئ

## شعر

څکه د دی خاوری د پاره له خپل سره تیریم
دا مې غرور دا می غزت دا غیرت ده مورې

زما ناموس زما هیواد زما خاوره ده دا
څکه مې سر او مال قربان دی مورې

خیر ده څواب به یې څواب ور کړمه
دا خپله خاوره به د سر په بدله ساتمه

مور جانې دعا کوه نور هیس نه غواړم
دا مې ګلشن دا مې زړه دا مې عزت ده مورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه یم افغان په دی هر سه باندی ډیر فخر کوم
دا مې وقار دا می شمله  دا مې غیرت ده مورې

زه به یی هیڅ ته له زری خاوری نه تیر نشم
له دغې خاوری سره ډیر مې محبت ده مورې

خدای به مو بیا نظام په خپو ودروی
د عظیمې دغه دوعا په هر ساعت ده مورې

## لنډی

زما جانانه لیونیه
د لارې مه ځه در ته زه کوم سوالونه

مازدیګری دې ښیری مه کړه
ته به د ناز ښیرې کوې رختیا به شینا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دنګه بنګه ځوانیمرګه
لاچې لونګه لیونی درپسې شومه

زما جانان ملی بیرغ دی
توری یی سترګې سرې یی شونډې شنه خالونه

لیونی غلی غلی راشه
وخت مازیګر ده چا ته مه وایه حالونه

پردې راوړې نه خپلیږی
که دماشوم په شان یې وکړئ خدمتونه

عظیمې غلی غلی راشه
سهر مابنام به سلامې در ته کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لنډۍ

په تا مين شوم رنګ مې زيړ شو
د کلي خلک بيا پيغور را ته کوينا

جانانه غلی غوندې لاړ شه
وخت مازيګر ده څوک به بيا لاره سارينه

چې ستا د مينې بندي وان شوم
د کلی خان شوم تا ته نه وايم حالونه

مازيګری ده سوال قبليږې
د ډيرو پيغلو يې پوره کړه ارمانه

عظيمي حال د زړګی وايه
زه چې مين شوم چا ته نه وايم حالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لنډۍ

د مینې غبرګ راباندې وکه
چې درته وایمه د خپل زړګي حالونه

جانانه غم د زورور ده
ته کله کله غم د تل راسره وینه

ګلې وطن مې ډیر یادیږي
خدایه پوره کړې د غمجن زړګي سوالونه

مسافرې کې مې زړه تور دی
خدایه ته خپل مې کړې د خپل وطن کورنه

لیونۍ کیږمه ارمانه
د ګلي خانه چاته مه وایه حالونه

عظیمي زړه به درله درکړم
په نیمه شپه کې چاته مه وایه حالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شعر

ما خو کیسه در ته پوره کوله
ما خو ګیله در ځینی نه کوله

ته لیونی وی چې په منډه لاړې
ما اراده در ته پوره کوله

زه د په نیمه خوله بی وخته پرښوم
ما زمزمه در ته پوره کوله

په نیمه شپه مې د یو چا دحسن ډیر کړه صفت
ولا د زړه نه مې پښه دا اراده کوله

عظیمي وایی چی مغروره نشې
ما مې د ژوند یو خاطره در ته پوره کوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شعر

نیمګړی مینه وه ارمان ماور ته ډیر وکتل
هیڅ زه پوی نه شومه په ځان ماور ته ډیرو کتل

نری نری اوښکې یې سترګو ته راغلی وی
خفه یی زه کړم په ایمان ما ور ته ډیر وکتل

جنو کې ناسته وه یوه خبر یی داسی وکړه
چی مې زړګې وه پې ودان ما ور ته ډیر وکتل

اوس چی د بل شوم نو ارمان یی کووم
عظیمي ورک شو له جهان ما ور ته ډیر وکتل

## شعر

نه وم نشه نه مې نشه کوله
ما مې د ځپل زړګي د ژوند یوه کیسه کوله

د چا په سترګو کې مې ځان ولیده
ځکه هم ما ور ته له زړه نه اراده کوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوم به يې نه اخلم خو دا ور ته له زړه نه ليکم
چې ما په ژوند کی بس هم تا سره واعده کوله

نو څه دې وخت او دې حالا تو تنګ کړم
څه مې د کور او لدې کلي نه ګيله

نه مې هم ته شوی او نه زه شومه ستا
عظيمي نن دغه ګيله درنه وړه کوله
شعر
زمونږ د کلي او ګودر کيسه وه
دا خو لا سه کی د سهر کيسه وه

چې شاه زلميانو نه يی لار ور که کړه
هغه د پيغلو د ولور کيسه وه

په تا مين چې شو نو وس يی نه وه
دا خو همغه د دلبر کيسه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د دی ښکلې مازیګر نه تیر شوم
بس ددی کلي دګودرنه تیرشوم

تر څو چی ښی ډیری رپی وګټم
د هغی ښکلي خور له در نه تیر شوم

مور جانه ورونه او کودر می پریښود
د هغه ښکلی پلار له در نه تیر شوم

علم او پوهه ورنه پاتی شوله
هغه کیسه کی د ولور وخوړه

ای زما د کلي او چم مشرانو
زما د کور او د ګاونډ مشرانو

زه عظیمي در ته دا سوال کوومه
چی خپل ګلونه د ولور لپاره مه کړوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شعر

په مینه مسته لیونیه چا ته حال مه وایه
زما د بر کلي لالیه چا ته حال مه وایه

په تا مین یم راز به زړه کې ساتم
زما د بر کلي سپرلیه چا ته حال مه وایه

پرون ناوخته در ته ناست ومه د غره په څوکه
زما د بر کلي زړګیه چا ته حال مه وایه

عظمي ستا لپاره داسی انتظار کوی ای
زما د ژوند ښکلي سپرلیه چا ته حال مه وایه

## شعر

ځوانی وه ما زیګر وه ره په بر سنګر کی ناست وم
نا څا په اوازه شو چې پوسته یې ورنه یوړه
معزغه مې داسي ګرم وه جزبه کې وم راغلي
ما ویلي داسي هسې مفته یې درنه یوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بل ټاور نه غږ شو چې صاحبه مونږ به څه کړو
ما غلي ور ته ویل لیونیه ویره مه کړه
که دوی راځي تر مونږه مونږ خو هم تر چا کم نه یو
دوی سنګه داسي وایې چې هغه یم درنه یوړه
صاحبه داسي ښکارې چې نظام مو دي خرڅ شوې
چې هر طرف ته ګوري وې هغه یم درنه یوړه
زه بر طرف ته ناست وم یو چا غوږ کې را ته ویل
عظیمي نظام دې ړنګ شو چې وسله یې درنه یوړه
دا سنګه بد حالات شو او دا سنګه کډ وډې شوه
چې اوس هغه د ارګ یوه څیره یې درنه یوړه

شعر

ته د زړونو سودا ګر وې
زه غربت ومه نیولی
ته پا چا د یو محل وې
زه محتاج د یو ټغر وم
ته د مست نظر خاوند وې
زه ګدا د ځپل بستر وم

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا ته ټول لاس په نامه وه
زه خو پاتې له هر څه وم

ته غرور مه کړه صاحبه
زه غرور نشم زغملی

وخت په تا ندیم ظالم شو
ځکه ته هم در په در شوي

زه ملنګ عظیمي وایم
زه خیرخوا د ځپل وطن وم
لنډۍ
افغانستانه رب د جوړ که
څوک چې د غوارې بربادې نو مړ د شینه

زما دا دری رنګه بیرغه
د زړه په سر به سلامې در ته کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رب د ځلاند لره رپیږه
ملی بیرغه ته زمونږ یې امیدونه

زه عظیمي به دې د سر په وینو لوړ ساتمه
ته مو ارمان ته مو ارزو یې ګلستان وطن

شعر

غرور مې چې بې وخته محبت کې دی بیللی
د سترګو د نظر لدې لیدو نه می توبه ده

ما هم د ملنګانو جامه یو ځلی اغوستی
بې وخته د نفرت لدې کیسو نه مې توبه ده

زړګی مې وه باللی خو ارمان چې وخت یې نه وه
د سرو شونډو د سر او اشارو نه مې توبه ده

ناځوانه زمانه وه عظیمي یې رانه بیل که
بې وخته مینتوب او دی کیسو نه مې توبه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شعر

زه لکه ماشوم درپسې ژاړمه
ته رابندی دا سنګه نخرې کوې

خیرده که غریب یمه د خدای یمه
ته راباندی دا سنګه کانې کوې

تیر به مو دوران د غریبې شی ای
ګوره بیابه داسې اوسیلې کوې

وایی عظیمي پروا یې نلرم
دا چې نن په نورو کې کیسې کوې

## شعر

ته مې زړګی یی ته مې ځان سربازه
ته مې غمی یی په ګریوان سربازه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته مې د دې هیواد ارزو یې ګله
ته مې زمری د سنګرو سربازه

دربانده ویاړ کوم ا تل یې زمونږ
په نیمو شپو کې قهرمان سربازه

ته د وطن لپاره سر ورکوې
ته یې شاهین ته یې ښه ځوان سربازه

پیغلې دې لاس په دعا ټولې در ته
ته یې زړګې د هرې مور سربازه

رب د دوښن در ته سر ټیټې لره
ته یې سپر لې د سنګرو سربازه

عظیمې وایي ربه خوښ یې لري
دا مې ارزو ده د کلو سربازه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لنډۍ

ما ته مې خپل وطن جنت دی
سهر ماښام چې د یار کلی ته ورځمه

غریبي مه راولې خدایه
زه به پردی وطن ته ځم یار به پریدمه

مسافری ډیره اږده وي
څوک چې مین وي زړه دې ځانته صبروینه

جانان مې ډیر رابانديي ګران دی
خدایه تی راکې چې ښکل کړمه لاسونه

خدایه نن ډیر را ته یادیږی
د عظیمي جانان مې نشته اوازونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شعر

زما د ژوند زما د هیلو ډیوه
زما د خوب او د خیالو ډیو ه

د ځان نه ډیر وربانډی ګران ومه زه
زما د ژوند د امیدونو ډیوه

هغی زما د خوشحالیو ډیر ارمان کولو
هغه به هر وخت کی زما لپاره سوال کولو

رب ته همیش په سجده پر ته وه
هغه زما وه د رازونو ډیوه

دهغې خپو لاندی جنت دی وروره
هغه زما وه د نازونو ډیوه

عظیمي وایی ربه ورکی جنتونه ور ته
زما مور کې وه زما ژوند وه د دی زړونوډیوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شغر

ته وی چی ورک د کړه زما د وطن ښکلی ګلان
ته وی چی ورک د کړه د دی ګلشن سپیڅلي ګلان

ته په دې فخر کړی چی زه هم ځانته څوان وایمه
ورک شی ظالمه تا وژلي دغه ښکلي ګلان

نور د هیڅ زده نه وه همدا د زده وه
چی څنکه ورک کړمه د دی ګلشن دا ښکلي ګلان

اوس چی د حال ګورمه دغه شان بی وسه ښکاری
ورک شی ظالمه تا زما خایسته وژلی ګلان

ای د پنجاب غلامه هیڅ به ترینه جوړ نه کړی ته
ته وی غلام ته یی غلام تا مې وژلي ګلان

عظیمي وایی زه بی تل په خلاف غږ کومه
ته یی قاتل ته یی رهزن تا مې ورک کړي ګلان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شعر

ته چې په خیال د امیدو وې زمونږ
ته چې روزنکی د دی شپو یې زمونږ

ته مو اتل ته قهرمان یې پلاره
ته خو ارمان ته خو ارزو یې زمونږ

رب دې زمونږ له سره مه کموه
ته خو زمری د سنګرو یې زمونږ

زما اتله قهرمانه پلاره
زما د خوږ زړګی درمانه پلاره

رب دی دوښمن در ته سر ټیټی لره
زما مخلصه قدردانه پلاره

عظیمي وای رب د خوښ لره تل
ته خوږ شاعر او قدر دان یې پلاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شعر

خدایه نشته ده دیدار د چا د سترګو
زړه مې ډیر دی ناقرار د چا د سترګو

په لیدلو باندی زه نشه نشه شم
بې لیدلو یم خمار د چا د سترګو

ټول ژوندون مې په ارمان ارمان کی تیر کړه
دا وهلی یم ازار د چا د سترګو

د جهان په طبیبانو نه روغیږم
زه اکبر یمه بیمار د چا د سترګو

## شعر

نه مې پاریس نه جرمني نه انګلستان خوښیږي
په تا مین یمه ستا د لپاره مي لغمان خوښیږي
سترګی د مه اړوه زما سترګو ته ډیر وګوره
دا ستا د سترګو جنګ مې ډیر ډیر په ایمان خوښیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زلفي د مه کمسې کوه درسره خوند نه کوي
ستا په اوږو مې ستا خواره واره زلفان خوښیږي

ما امتحان که سر او مال قربانومه له تا
دا ستا په مینه کی می هر رنګه تاوان خوښیږي

اکبر وايی ستا دیدن زه داسی لیواله یمه
لکه د للمې د ګلونو چی باران خوښیږي

شعر

خاونده خلاص کړی افغانان له غمه
داوران ویجاړ افغانستان له غمه

یاالله ته مو په حال رحم وکړي
ژاړي موکونډي یتیمان له غمه

دغه خزان به وی تر کومه پوري
ربه فریاد کړی بلبلان له غمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاچې په دې ګلشن کی اوربل کړې
ربه کورونه یی کړې وران له غمه

اکبر یی دی دازادی په ارمان
کله ازاد به شي جانان له غمه

شغر

په ماباندې مین چی وې اضهاردي ولې نه کو
په ژبه خوګونګ نه وی نو اقرار دي ولی نه کو

چې ته زما دیدن ته زمونږ کور ته وي راغلی
ماما کره میلمه وم انتظاردې ولې نه کو

اوس څه وکم چی بل ځاي کی کوزده یی در ته وکړه
داستاخوښه چې نه وی نوانکار دې ولې نه کو

بیاهم در ته په تمه وم چی ماپسې به راشې
چی بل ته یې ودولم نو تلوار دی ولې نه کو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهار اومازیگربه مې لیدلی اکبر خانه
وظیفه دی څه کوله بل روزګار دی ولی نه کو

شعر

یوورځ به اخلم انتقام له دوښمن
د وران ویجاړ افغانستان له دوښمن

دغه بیرغ به موا تک کی رپي
خپل به ګړوخپل پښتونستان له دوښمن

غلیم به وایي چي مې دوست ګڼي ده
اوس باخبر دي هر افغان له دوښمن

زمونږ هر ښار کی ځان وژني کوي
تربیه شوي ظالمان ددوښمن

اکبر وی هلته به خوشحاله شمه
چی مې ازاده شي جانان له دښمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شعر

ربه ځای په ځای مرګونه دي نوربس دي
دلته کورپه کورويرونه دي نوربس دي
ټول جهان کی نعمتونه اوخوشحالی دي
په افغان وطن غمونه دي نوربس دي
اخيرمونږ ديم بنده ګان يولويه خدايه
دادی کوم امتحانونه دي نوربس دي
الاهی دا ګستاخي مې را ته معاف کړئ
ډک دصبرمی جامونه دي نور بس دی
هري خواظلمونه ويني پري درديږي
دا کبر دافريادونه دي نور بس دی

# شعر

زه که له مرګه ويريدلي نوافغان به نه وم
که له ميدانه تښتيدلی نوافغان به نه وم
داچي په سروويښوکی لت پت يمه په پټکی پروت يم
که ناست په تخت باندي بی پټه وې افغان به نه وم
ماپه ټالنګ تړلي ټانه مې خام ټار ټاوکړي
که زور می نه وی دربنو دلی نو افغان به نه وم

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ اسلامي قانون کلتور دپښتوهم لرو
که لاړ میکالی مې منلي نوافغان به نه وم

ددنیا هر سوپر طاقت مودلته ونړوه
که په اسانه ما تیدلي نوافغان به نه وم

دوخت نمرو ته زه اکبریم ابراهیم وا تا ته
که ستا داوره په شا تللي نوافغان به نه وم

شعر

ته شوی روان له دغه کلینه ښکولادی یوړه
ته وی زړګی دهریوځوان جانانه
ستادغرور کیسه دي ټول کلي ته پاتي شوله
ته وی زمری ته وي اتل ته قهرمان جانانه
دمور زړګی وی د ورور ځان جانانه
چې شول میلمه دې دمکان جانانه
څوک چې دخدای درحمه وغور ځیږی
بیاوژنی تاغوندی انسان جانانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظالم دی هم له ځانه مخکی کړلو
ته هم شهید شوی په ایمان جانانه
دپلار دامر اطاعت دي وکه
تا په ځای کړی دهغه امراوفرمان جانانه
عظیمي وایي ربه ورکړی جنتونه ور ته
ته وي ساتونکي دخپل دراودایمان جانانه
شعر
دومره نا ترخه وې ظالمه تاکلان ووژل
یودي اکرام بل دي جانان ووژل

دمور په ژوندي پري قیامت راوسته
چي څنګ په څنګ دي دوه ځوانان ووژل

داظلم هم ځانته سرحدلري یی
چي تا د یو کورني دریواړه خانان ووژل

مونږ دي دغم په تغر کینولوای ظالمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یودي مور کې دوه دي خوارېه ځوانان ووژل
عظیمي سوال در ته کوي خالقه
ته یی تباکړي چاچې دغه شازلمیان ووژل
شعر
ته یي دوښمن ددغی خاوری په ایمان یی وایم
ته یی قاتل ته یی رهزن اي په ایمان یي وایم

چی دملت په وینوسره لاسونه تانیولي
دورور قاتل یي اي ظالمه په ایمان یي وایم

چي درهبر اودعسکر په خلاف ته جنګیږې
د دین اسلام یي پوخ دوښمنه اي په ایمان یي وایم

د اد تکبیر ناره مونږ هم وایواوفخرپري کړو
ته یي خلاف یې سراسره په ایمان یي وایم

ته دپنجاب دغلامي نه بس نور ځان اوباسه
نه پرېږدومونږ در ته سنګر ای په ایمان یي وایم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته دا کوشش کړي چې رهبر مو په ګولي وولي
مونږ دا ناره د الله اکبر کړو په ایمان یې وایم

زه عظیمي در ته داوایم افغان مه ژړوه
سر ته به ناسته دي مور کې وي په ایمان یې وایم
شعر
بیوسي دچا نصیب مه کړی ای خدایه
زه بیوسه شوم په دار شومه ملګرو

اي خالقه ته مې مل شي چې تنهایم
عظیمي یې نن ازار کړلو ملګرو
شعر
زه به روان شم ستا له کلی نه ملنکه یاره
ته مې د تورو سترګو تور یی غنم رنګه یاره
د کلي منځ کې به دې وکړمه پوښتنه ګله
زما نیازبین لاچې لونګه یاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ادا ګانو کیسې ستا د هیرولو نه دي
زما پښتون زما نیازبینه کلیواله یاره

زه عظیمي به دی له ربه غواړم
زما زړګی یی زماځان یې کلیواله یاره
شعر
ستا دیوه نظر لیدو په سې مې ډیروژړل
ستا دوعاګانو ته محتاج وم موري
چې زه له دغه ښاره لري لاړم
ستا تصویرو په سې مې ډیر وژړل

ای له دي وخته زه ګیله لرمه
ستا اللو په سې مې ډیر وژړل
دوخت حالاتو راګیر کړي ومه
ستا د ژوندون دي ارمانو په سې مې ډیر وژړل
دزړګي حال مې چا ته نشوویلي
بلا خبري مې په زړه کي پاتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زه عظیمي له ژونده سترې یمه
## ستا د نه شتون په دې هر څه پسې مې ډیر وژړل

### شعر

ته خوګونږي نه یې باچا ولې خبرې نه کړې
دکار سړي نه یې باچا ولې خبرې نه کړې

دملت واړه ارمانونه دې ترخپولاندې کړل
که ته غدارنه یې باچا ولې خبرې نه کړې

چې په دستوردپاکستان مو ته ملت زوروې
که ته ددوې نه یې بچې ولې خبرې نه کړې

چې په تعلیم او په بیرغ مو بندیز تاولږو
که پنجاپې نه یې باچا ولې خبرې نه کړې

عظیمې وایې ستا له هر څه نه مې زړه تورشوې
د سر سړې نه یې باچاولې خبرې نه کړې

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**